# واوره

واوري وريږي

پټي د واورو لاندي پټ دي

ځاروي بهر نه پوول کيږي

پيتاوي نشته

هر يو په خپل کور کي ايسار دي

آواز د پاستو بوي د لاندو

وده له خوبه ويښوي

تياره سهار دي

آواز د پاستو بوي د لاندو

هاغه تياره خونه کې نشته

پسه کوم ظالم ترينه اخيستي

اوږه يې مخکي تمام کړي

ماشوم د وخته را ويښ شوي

زړه يې سوکړک ته هوسيږي

واورې ورېږي

واوره څه پاکه څه سوچه ده

لوړې ژورې په کې ورکې

کارغان  له ورایه تور ځلیږي

واوره د سپینو زړونو نښه

واوره د ښو فصلونو زیري

واوره چه ټوله شي زیاتیږي

چه سره غونډه شي ټینګیږي

واورې ورېږي

په لر او بر سپینه رڼا ده

آسمان بیخي نه ښکاره کیږي

ونې د واورو لاندې ځانګې

ځانګه چه واوره پې پرته وه

چه ښکته مځکې ته کږه وي

څومره درنه څومره ښایسته وي

خلك لګیا دي خپل بامونه پاکوي

## سړي په کار کې له يخنۍ نه نه ډاريږي

واورې وريږي
د کلي ځوان بچي روان دي
د غريبۍ پسې د ښار لوري ته ځي
وينې تودې هيلې ژوندۍ دي
څټك روان دي د يخ زور برې نه رسيږي
د کلي ځوان بچي پوهيږي
چه خامخا ښار ته رسيږي
اوړي به راشي لو به ګډ شي
آواز د ټاستو به اوچت شي
مسافري په کراري کړه
اصيل زاده يم په نامه دې ناسته يمه

جنيد شريف ــ دا د يوه زاړه شعر لنډه شوې بڼه ده